اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

دکَفَن دَفَن طریقه

ټول کناهونه به ئې معاف شي

خوږ مَدَني سُلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے چه څوك یو مړي ته غُسل ورکړي، کفن ورواغوندي، خوشبو پرې اولګوي، جنازه ئې پورته کړي، [د جنازے] لمونځ ئې اوکړي او کومه ناقصه خبره چه پکښې ورته ښکاره شي هغه پټه کړي، هغه د ګناهونو نه داسې پاك شي لکه څنګه چه د پیدائش په ورځ وو. (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه کتاب الجنائز. باب ماجاء فی غسل المیت، ۲/۲۰۱، حدیث ۱٤٦۲)

دکَفَن دَفَن د احکامو مُتَعَلِّق 4 مَدَني ګلونه

﴿1﴾ مړے لمبول فرضِ کِفایه دي، که بعضې خلقو وركړو نو د ټولو نه ساقِط شو (یعني د ټولو له طرفه ادا شو). (بهارِشریعت حصه ٤، ۱/۸۱۰)
﴿2﴾ مړي ته کفن ورکول فرضِ کِفایه دي. (بهارِشریعت حصه ٤، ۱/۸۱۷) ﴿3﴾ د جنازے لمونځ فرضِ کِفایه دے یعني که یو کس ئې هُم ادا کړي نو ټول بَرِیُّ الذِّمَّه شو [یعني ذِمّه وارئ نه خلاص شو] ګنې کومو کومو ته چه خبر رسیدلے وو او رانغلل هغه ټول ګنهګار شو (بهارِشریعت

حصّه ٤/١٠٨٢٥) ﴿4﴾ مړے خخول فرضِ کِفایه دي او د خخولو نه مُراد دا دے چه کند [یعني قَبر] اُوکنئ، په هغے کښې مړے کیږدئ او [د کټو وغیره] تختے پرې کیږدئ او خاورې پرې واړوئ. دا جائز نه دي چه [د زمکې د پاسه تړې] څلور واړه طرف ته دیوال راتاو کړئ او بند ئې کړئ. (بهارِ شریعت حصّه ٤/١٠٨٤٢)

چه رُوح ئې اوځي نو د دې شپږو مَدَنِي کلونو مطابق عمل اوکړئ

❁ د مړي سترګې که غړیدلي وي نو بندې ئې کړئ. ❁ یوه پلنه [د کپړے] پټئ ورله زنې نه راتاو کړئ او سر ته ئې اورسوئ او غُوټه ئې کړئ چه خُله ئې واړه پاتې نه شي. ❁ مخ ئې قِبلے ته کړئ. ❁ د مړي کوتې او ښپے او لاسونه نیغ کړئ. ❁ د دواړو ښپو غټې کوتې ئې را یو ځائے کړئ او نرمئ سره ئې اوتړئ. ❁ د مړي خیټه باندې د مناسب وزن څه خیز (مَثَلًا پرستن یا کمبل وغیره حسبِ ضرورت راتوله) کیږدئ چه خیټه ئې اونه پرسیږي.

دغُسل او کفن د تیارئ مَدَنِي کلونه

❁ د اوبو تودلو انتظام اوکړئ او نور د دې څیزونو انتظام اوکړئ!

﴿١﴾د غُسل تخته ﴿٢﴾اګربتئ ﴿٣﴾د تِیلو ډبے [یعني ماچس] ﴿٤﴾دوه پیړې څادرې (که د نسواري رنګ وي نو بهتره ده) ﴿٥﴾مالوچ ﴿٦﴾ د غټ رومال په شان د کپړے دوه ټوټے (استنجا وغیره د پاره) ﴿٧﴾دوه بالټي ﴿٨﴾دوه مکّونه [یعني د ارتې خُلے لاسټي والا بغیر ټوټئ والا د

لـمبولو لوتے] ﴿۹﴾صابُن ﴿۱۰﴾د بيرې پانړې ﴿۱۱﴾دوه تولياګاني ﴿۱۲﴾د کفن ناګنډلي د غټ عرض [يعني پلنه] کپړه ﴿۱۳﴾ قينچي ﴿۱۴﴾ستن او تار ﴿۱۵﴾ کافُور ﴿۱۶﴾ خوشبو. (د خپلو ور رسيدلو اندازاً وخت هُم ورته اوښائې)

د مړي د غُسل ووه مرحلے

﴿۱﴾استنجاء ورله کول. (خوك چه ورله استنجاء کوي هغه دِ خپل لاس نه کپړه راتاو کړي.) ﴿۲﴾اودس ورله کول (په دې کښې خُله وينځل او پوزه کښې اوبه اچول نشته لِـهذا مالوچ لامده کړئ او غاښونو، ورو، شونډو او سپيڑمو پورې ئې ورته رابنکاړئ بيا ورله درې ځله مخ، درې ځله د څنګلو سره دواړه لاسونه اووينځئ، يوځل ورله د پوره سر مسح اوکړئ بيا ورله درې ځله دواړه ښپے اووينځئ) ﴿۳﴾د ګيږې او سر وينښته وينځل. ﴿۴﴾مړے په ګڅه ډډه [په چپ څنګ] څملول او ښئ ډډه ئې وينځل. ﴿۵﴾مړے په ښئ ډډه [په ښي څنګ] څملول او ګڅه ډډه ئې وينځل. ﴿۶﴾ شا طرف [يعني اُوګو] نه لاسونو وغيره باندې ټينګ کړے کښينول او په نرمئ سره ئې د خيټې لاندې طرف باندې لاس رابنکل (د ستر ځائے ته ئې نه کتلے شئ او نه بغير د کپړے نه لاس ورورے شئ). ﴿۷﴾سر نه ښپو پورې د کافورو اوبه بهيول (د کافورو ګډو کړو اوبو يو مګ کافي دے)

دکفن پریک کولو ۷ مرحلے

﴿۱﴾کفن د پاره تقریباً پاو کم دوه ګزه پلنه، ۷ میټره کپړه واخلئ. ﴿۲﴾یوه کپړه د مړي د ونې [یعني قد] نه دومره زیاته کټ کړئ چه د راتاوولو نه پس سر او ښپو طرف نه اوترلے شي (یعني غټ ځادر). ﴿۳﴾دویمه ټوټه د مړي د ونې همره کټ کړئ (هغے ته اِزار یا لنګ وائي). ﴿۴﴾قمیص د پاره ټوټه [یعني کپړه] د مړي د څټ نه واخله زنګونانو نه لاندې پورې ناپ کړئ او بیا هغه غبرګه کړئ چه د مخې او شا نه ئې اوګړدوالے یو شان وي او پلن والے ئې د دواړو اُوګو برابر ساتئ، په دې کښې ساقونه او لستونړي نه وي. ﴿۵﴾د سړي قمیص کښې غاړه جوړولو د پاره د مینځ نه اُوګو طرف ته او د زنانه قمیص د پاره سینے طرف ته دومره اوځیرئ چه قمیص ئې وراغوستلو کښې په سر باندې آسانئ سره تیر شي. (نارینه د پاره سُنَّت کفن کښې هُم دا درې ټوټے دي او د زنانه د پاره دوه ټوټے نورې دي، سینه بند او لوپټه) ﴿۶﴾سینه بند د پاره د کپړے اُوګړدوالے سینے نه ورون پورې ساتئ. ﴿۷﴾لوپټے د پاره اُوګړدوالي کښې کپړه دومره پریك کړئ چه د شا د نیمې نه واخله سر او مخ باندې سینے پورې راشي او پلن والے ئې د یو غوږ نه واخله بل غوږه پورې وي (دا عام طور یو نیم ګز وي. د قمیص د پلن والي نه چه کومه کپړه پاتې شي دا د هغے نه جوړیدے شي).

دکفن ور اغوستلو ۹ مرحلے

﴿۱﴾ کفن ته [اګربتئ یا سپیلي] لُوکے کول. ﴿۲﴾ کفن ترلو د پاره چیرې [رینجئ] لرل. ﴿۳﴾ کفن خورَوَل (ټولو نه مخکښې غټ څادر بیا لنګ (یعني وړوکے څادر) بیا قمیص خورَوَل، د ښځې کفن کښې ټولو نه مخکښې سِینه بند، بیا غټ څادر بیا وړوکے څادر بیا لوپټه او بیا قمیص خورَول)

﴿٤﴾ مړے د کفن د پاسه ځملول. (نرمئ سره ئې ځملوئ [او خیال کوئ] چه اوس ئې هُم بے ستري اونشي) ﴿٥﴾ د شهادت په ګوته ورته په سینه اوله ګلِمه، زړه باندې یارَسُولَ الله (صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) لیکل، یاد ساتئ چه دا لیکل په سیاهي نه دي پکار. ﴿٦﴾ قمیص وراغوستل او په تندي ورته د شهادت په ګوته بِسْمِ الله لیکل ﴿٧﴾ د کفن د نامه او سینے مینځنئ حِصَّه باندې د مشائخو [یعني بزرګانو] نومونه لیکل (زنانه ته کفن ور اغوستلو نه پس د هغے ویښته دوه حِصّے کول او په سینه د پاسه خورَوَل، بیا لوپټه ور په سر کول) ﴿٨﴾ [د مړي] د سجدے په اندامونو کافور لګول. ﴿٩﴾ مخکښې لنګ (یعني وړوکے څادر) بیا غټ څادر، اول د ګڼ طرف نه او بیا د ښي طرف نه را تاوول (د زنانه کفن کښې غټ څادر نه پس سینه بند اول ګڼ طرف نه او بیا ښي طرف نه راتاوول)

د بالِغ د جنازے د لـمانځه نه مخکښې دا اعلان اوکړئ

د مرحوم (یا مرحومې) عزیزان او دوستان تَوجُّه اوکړئ! مرحوم که په ژوند کښې کله ستاسو زړه ازارولے وي یا ئې ستاسو حق تلفي کړي وي، یا ستاسو مقروض وي، نو د الله د رضا د پاره ئې معاف کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی مرحوم ته به هم خیر اورسي او ستاسو به هُم ثواب اوشي. د جنازے د لـمانځه نِیَّت او طریقه هم واورئ. ''نِیَّت کوم د دې جنازے د لـمانځه خاص الله لره، دُعا د دې مړي د پاره، په دې حاضر اِمام پسے.'' که دا الفاظ درنه هیر شي نو هیڅ باك نشته، ستاسو زړه کښې دا نِیَّت ضروري دے چه ''زه د دې مړي د جنازے لـمونځ کوم'' چه کله اِمام صاحب ''اَللّٰهُ اَکْبَر'' اووائي نو غوږونو ته لاسونه پورته کړئ او بیا د ''اَللّٰهُ اَکْبَر'' وئیلو سره فوراً د معمول مطابق د نامه نه لاندې لاسونه اوتړئ او ثناء اولولئ. په دویم ځل چه اِمام صاحِب ''اَللّٰهُ اَکْبَر'' اووائي نو تاسو د لاسونو پورته کولو نه بغیر ''اَللّٰهُ اَکْبَر'' اووائې، بیا د لـمانځه والا دُرُودِ اِبراهِیم اولولئ. چه دریم ځل اِمام صاحِب ''اَللّٰهُ اَکْبَر'' اولولي نو تاسو د لاسونو پورته کولو نه بغیر ''اَللّٰهُ اَکْبَر'' اووائې او د بالِغ د جنازے دُعا اولولئ[1] چه کله ځلورم ځل اِمام صاحِب ''اَللّٰهُ اَکْبَر'' اووائي نو تاسو ''اَللّٰهُ اَکْبَر'' اووائې او دواړه لاسونه خلاص کړئ او زوړند ئې کړئ او اِمام صاحب سره د قاعِدے مطابق سلام اوګرځوئ. (د جنازے د لمانځه طریقه ص ۲۱، ۲۲)

---

۱ که د نابالِغه هلك یا جینئ جنازه وي نو د هغے د دُعا وئیلو اعلان کوئ.

دخخولو ۱۷ مرحلے

﴿۱﴾ادیره کښې خخولو د پاره داسې ځائے اخستل [یا خوښول] پکار دي کوم ځائے چه مخکښې قَبْر نه وي. ﴿۲﴾د قَبْر اُوکړدوالے د مړي د وني [یعني قَد] نه لږ زیات، پلن والے د نیمې وني او جوَړوالے کم از کم د نیمې وني همره پکار وي او بهتره دا ده چه جَوَړوالے هم د هغه د پوره وني همره اوکړے شي. ﴿۳﴾قبر کښې که د خښتو دیوال جوړ شوے وي نو د مړي د راوړلو نه مخکښې د قَبْر او د [سیمنټو د] سلیپونو دننه طرف په خټه لیو کول. ﴿٤﴾مخې ته قبلے طرف ته دیوال کښې تاخ جوړول او په هغے کښې عهدنامه، شجره شریف، وغیره تَبَرُّکات اینبودل. ﴿٥﴾دننه طرف ته تختے په سُوْرَهْ یٰسٓ ، سُوْرَهْ مُلْك او دُرُودِ تاج باندې دمول. ﴿٦﴾مړے د قبلے د طرفه قَبْر ته کوزول. ﴿۷﴾زنانه مړے د کوزولو د وخت نه واخله تختے لګولو پورې په یوه کپړه پټول. ﴿۸﴾قَبْر ته کوزولو وخت کښې دا دُعا لولئ: بِسْمِ اللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ ﴿۹﴾مړے په ښئ ډډه [په ښي خنګ] خملوئ یا ئې [صرف] مخ قبلے ته کړئ او د کفن غوټې خلاصې کړئ. (د مړي د راتلو نه مخکښې په قبر کښې د پستے خاورې یا نرئ شګې بالښت شان جوړ کړئ او هغے ته د مړي ډډه اولګوئ او ښئ ډډه باندې ئې خملوئ که دا نه شي کیدے نو مخ ئې په آسانئ چه خومره کیدے شي قبلے ته کړئ) ﴿۱۰﴾خخولو نه پس د قَبْر د بر

سر طرف نه پرې دري ځله خاوره واچوئ، په ورومبي ځل مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ (مونږه ته د زمکې نه جوړ کړې) په دويم ځل وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ (او هُم دې ته به تا بيا بوځو) او په دريم ځل وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى (او د هُم دې نه به تا بيا را اُوباسو) اُووائې. ﴿۱۱﴾ قَبْر د اوښ د کوپان په شان پورته وتلے جوړوئ او اوچتوالے ئې د يوے لويشتې نه لږ زيات ساتئ. ﴿۱۲﴾ خخولو نه پس په قَبْر اوبه واچوئ. ﴿۱۳﴾ په قبر ګلونه اچول چه تر څو شنه وي تَسْبِيْح کوي او د مړي زړه ورسره په راحت [يعني سکون] وي. ﴿۱۴﴾ خخولو نه پس ورته بر سر ته د سُوْرَةُ البَقَرَه د شروع آيتونه د الٓمّٓ نه مُفْلِحُوْن پورې او د بنې د طرف نه د آخرئ رُکوع آيتونه د اٰمَنَ الرَّسُوْلُ نه د سورة د آخرې پورې لوستل.

﴿۱۵﴾ **تلقين کول:** يو کس د قبر سر طرف ته اودريږئ او اُووائې: يافُلان اِبنِ فلانة [يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] مَثَلًا فاروق بِن آمِنه] هغه به واوري او جواب به نه ورکوي. بيا دِ اُووائي: يافُلان اِبنِ فلانة [يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] هغه به سم کښيني. بيا دِ اُووائي: يافُلان اِبنِ فلانة [يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] هغه به اُووائي: ”مونږ ته ارشاد اوکړه **الله** تعالٰی دِ په تا رحم اوفرمائي.“ خو تاسو ته د هغه د وئيلو خبر نه کيږي. بيا دِ اُووائي: اُذْكُرْ مَا خَرَجْتَ عَلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا: شَهَادَةَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) وَاَنَّكَ رَضِيْتَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّ بِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّ بِمُحَمَّدٍ (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)

نَبِيًّا وَّ بِالْقُرْاٰنِ اِمَامًا۔ ﴿۱۶﴾ دُعا و اِيصالِ ثواب کول. ﴿۱۷﴾ د قَبْر سر ته اذان کول، ځکه چه د اذان په بَرَکت مړے د شيطان د شر نه بچ کيږي، اذان سره رحمت نازليږي، د مړي غم ورسره ختميږي، ويره ئې ختميږي، د اور عذاب که راتلو والا وو نو پرې نه به راځي او د قَبْر د عذاب نه خلاصے مومي او د مُنکَر نکِير د سوالاتو جوابات وريادېږي.

تِلاوت نه مخکښې داسې اعلان اوکړئ!

عاشقانِ رسول توجُّه اوکړئ! اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی! اوس به د قُرآنِ مجيد د آيتونو تلاوت کيږي، دا ښه په تَوجُّه او خاموشئ سره واورئ، بيا به اذان کيږي، د هغے جواب ورکړئ. بيا به دُعا کيږي. د مرحوم (يا مرحومې) د قَبْر وړومبئ شپه ده، دا د سخت ازمينښت وخت وي، شيطان مردود قَبْر کښې د دوکه کولو کوشش کوي، کله چه مړي نه تپوس کيږي: مَنْ رَّبُّكَ؟ يعني ستا رب څوك دے؟ نو شيطان ځان ته اشاره کوي او وائي چه اُواويه ''دا زما ربّ دے.'' داسې موقع باندې اذان د مړي د پاره ډير زيات فائده مند وي ځکه چه د اذان په بَرَکت مړے د شيطان د شر نه په امان کښې شي، اذان سره رَحمت نازليږي، د مړي غم ورسره لرې کيږي، ويره ئې لرې کيږي، د اور د عذاب نه په حفاظت کښې شي او د قَبْر د عذاب نه خلاصے مومي او د مُنکَر نَکِير د سوالونو جوابونه وريادېږي.

مدینه: د غُسل او کفن غیره طریقه زده کولو د پاره دا کارډ ناکافي دے. تفصیل د پاره د **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوے کتاب "**د کفن دفن طریقه**" اولولئ او د تربِیَّت د پاره "**مجلِس تجهیز و تکفِین** (دعوتِ اسلامي)" سره رابطه اوکړئ.

tajheezotakfeen.dawateislami.net